# اویستا او له پښتو ژبې سره یې تړاو

# Relation of Avesta with Pashtu language; A critical study

Dr. Ajmal Khkoli[1]


## ABSTRACT

*Avesta is not named any language. It has not been proved that Avesta has connection to any special ethnic region. The term "Avesta language" was not accepted for this language recognition by the experts of language and linguistics'…*

*According to Shinwari (1369: 124-125) Avesta is recognized on the basis of some text found in recent years which is not a sufficient proof for declaration. Aveetsa is basically the religious book of 'Zartasht' religion. The latest portion of this book means in archeological sense a foundation for UPASTA. This portion is written on the eve of SASINS called 'Zand'. According to Ustad Habibi and Dost Mohammad Shinwari, the part is taken from AZANTISH which means translation. There are numerous theories about relation of Pashtu and Avesta in the 2th century. Some declared AVESTA as mother of Pashtu and some termed it as sister of Pashtu language. Ustaz Ziyar and Margestrene declared Pashtu as the granddaughter of and Avesta is the daughter of Saki. In this paper you will find relation of Pashtu and .Saki Avesta in light of the book 'Avesta'.*


Key words; Avesta, Saki, Zartasht, Pashtu

[1] Associate Professor of Pashtu linguistics, Kabul University, Afghanistan, khkalay.ajmal2@gmail.com

لنډیز:
اوېستا د کومي ژبې نوم نه دی... په دې باب ډېر مشکل پرابلم دا دی، چې د اویستا له مذهبي متنونو څخه پرته په دغه ژبه کوم متن یا سند نه دی موندل شوی، بلکې په دې باب هېڅ داسې سند نه دی موندل شوی، چې د کوم خاص توکم یا خاصې سیمې سره د هغه ارتباط وښيي. له دغه مجبوریته د دغې ژبې له پاره څه موده پخوا د "اوېستا ژبه" یا "اویستایي ژبه" اصطلاح ونه منل شوه (شینواری، ۱۳۶۹: ۱۲۴-۱۲۵).

اوېستا خو د زرتشتي دین کتاب دی، چې لرغوني ریښه یې (Upasta) یوازې د "اساسي متن" مانا لري (شینواری، ۱۳۶۹: ۱۲۴-۱۲۵). د دې کتاب وروستی برخې چې د ساسانیانو پر مهال ولیکل شوې، "زند" ورته ویل شوې، چې د استاد حبیبي (۱۳۸۴: ۲۰۳) او مرحوم دوست شینواري په وینا (۱۳۶۹: ۱۱۲) د (ازنتیش Azantish) له کلمې اخیستل شوې، چې د پلټونکو په عقیده یې معنا د هغې تفسیر، ترجمه یا زیات دی.

د اوېستا او پښتو د خپلوی په اړه په شلمه پېړی کې بېلابېلې نظرېې وړاندې شوې، چې ځینو یې خور او ځینو اوېستا د پښتو مور بللې، چې مارګنسترین او استاد زیار د نظرېې پر بنسټ اوسنی پښتو د ساکي لمسی او اوېستا د ساکي خور ګڼل شوې. په دې لېکنه کې د اویستا د کتاب او اوېستا او پښتو په تړاو د وړاندې شویو نظرېو په اړه لولئ:

کلیدي کلمې: اوېستا، پښتو، ساکي، زرتشت

۱- سریزه:
استاد حبیبي (۱۳۸۴) د اوېستا د کلمې په اړه د ځینو پوهانو نظرونه راخیستي:

۱- پروفیسر ګلډنر: له پروفیسور (اندراس) څخه مسې نقل کوي، چې د اوېستا کلمه له پهلوي (اوپستا) څخه مشتقه ده، چې مانا یې (اساس، بینان او اصلي متن) ده. پروفیسر بارتولومه او ویسباخ دغه کلمه په اوېستا او هخامنشي ډبرلیک کې د (پناه او کومک) په مانا وو راوړې.

۲- یو بل مشهور عالم جیکسن: د نیویارک د کولمبیا کالج پروفیسر مسې وایي، چې د اوېستا اصطلاح له اوېستاک (Avistak) څخه راوتلې ده، چې دا کلمه په ساساني دوره کې عموما مستعمله وه؛ مګر دا نه ده معلومه، چې اصلي مانا یې څه ده؟ شایي چې پهلوي اوېستاک، لکه د سنسکریت ویدا غونډې د (پوهې، دانش او علم) په مانا وي یا شایي چې مانا یې اصلي متن The Original Text وي یا قانون.

۳- اوپرټ Oppert مسې لیکي: د اوېستا کلمه اساسا له ابستا Abasta پارسي کلمې څخه جوړه شوې ده، چې مانا یې قانون دی.

۴- ځيني نور پوهان دا عقيده لري، چي اوېستا د مجهول او نامفهوم مانا لري او دوي ټوټي کلمه ده، لومړی ټوټه (آ) يعني "نه"؛ دويمه ټوټه "وېستا" يعني دانسته ده، چي مرکبا "نامفهوم او مجهول او نادانسته" ورته وايي او د دې نامه وجه تسميه هم داسي بيانوي، چي: اصلي باختري اوېستا دوي نسخي وې او دغه نسخي هم د سکندر په تاړاک کي ورکي او تالا شوې، وروسته چي په پارتي او ساساني دورو کي د اوېستا د کتاب دويمه پلا ټولونه شروع شوه؛ نو يې خطي ټوټي هسي وې، چي څوک نه پرې پوهېدل؛ نو يې "مجهول او نامفهوم" وباله.

پخپله استاد حبيبي(۱۳۸۴) د دې کلمې شننه کړې، چي په وينا يې "او" "ښه" او "ستا" د "ستاينې" په مانا ده، چي ښه ستاينه تري جوړېږي.

د تقي بهار په وينا(۱۳۸۹)، اوېستا له "اوپستاک" نه اخيستل شوې، چي د کلک او محکم ځای په مانا ده، چي د محکماتو او شريعت د آيتونو مانا لري.

اوېستا د زرتشت د مذهب د متونو ټولګه ده(شپون، ۱۳۹۷: ۳۸). زرتشت څوک و؟ مرحوم دوست شينواری(۱۳۹۳) د افغانستان تاريخ په ماخذ، زرتشت د "زرد" يعني "زوړ" او "اوشت" د "اوښ" ترکيب ګڼي، چي مانا يې "د زړو اوښانو ښتن" کېږي.

زرتشت په اوېستايي ژبه کي "زراتوشترا" دی، چي همغه د زړينو يا ژيړو يا زړو اوښانو د ښتن مانا لري. (پارسي ويکيپيډيا).

د زرتشت د ژوند په اړه پوهان مختلف نظرونه لري. څوک يې د اوومي او څوک يې د شپږمې مز پېړۍ سړی بولي، چي په بلخ کي يې د يوه نوي دين بنسټ کېښود او خلک يې بزګری ته وروبلل. په دې دين کي چي اور تقدس درلوده، اورپښتي(استاد زيار) يا آتش پرستان يې بولي.

زرتشت څو معبودان يا ارباب الانواع خلکو ته معرفي کړل، لکه "ميترا" د مېوو رب النوع، "اناهيته" د کروندو پالونکی او داسي نور. د دغو ارباب الانواعو په باره کي د سندرو مجموعه اوېستا ده(شينواری، ۱۳۹۳: ۱۳۲). د اوېستا دې برخي ته ګاثونه يا ګاتونه وايي، چي د ويدا له ګيتونو سره همريښه ده او سندرو ته وايي.

زرتشت په يسنا کي د خپلو ملاترو له کموالي او بېوزلۍ سر ټکوي او د ځينو غرنيو دوښمنانو نومونه اخلي، چي د استاد زيار(۱۳۹۴) په وينا ساکي پووندګر د پښتنو نيکونه دي. په دې ډول زرتشت له خپل ټاټوبي کډه کوي او ګاونډي سلطنت ته ځي، چي مشري يې ګشتاسپ کوي. دلته نوموړی ډېر پلويان پيدا کوي. ګشتاسپ هم پري ګروهمن کېږي، چي له دې سره يې د نېژدې تورانيانو په تېره د ارجاسب توراني غوسه راپارېږي. د استاد زيار(۱۳۹۴) په وينا، په اوېستا او شاهنامه کي راغلي توراني(لکه ضحاک توراني) همدا پووندګر ساکان دي، چي د بلخ په شمالي سيمو کي اوسېدل او وخت پر وخت يې پر آبادو کرنيزو سيمو بريدونه کول. مرحوم دوست شينواری(۱۳۶۹) چي اوېستا د يوه عصر زېږنده نه بولي او وايي، چي په دې کي تر کرنې مخکې د پووندو کړی

د پراو هم خبرې راغلي؛ خو "د آريايي فيلالوژۍ اساسونه" دا خبره هم راالخلي، چې په دې کتاب کې د آرياني قبايلو د ژوند مغه مرحله منعکسه ده، چې ځيني کروپونه يې د کوچ او لېږد پر ځای ديشين شوي او په کليوالي مالدارۍ بوخت وو. شايي مرحوم شينواري دا خبره هېره کړې وي، چې ټولو آرياني قبايلو په يو وار کرنې ته مخه نه ده کړې، بلکې پر مغه مهال چې ځينو بزګرۍ ته مخه کړې وه، لا هم پوونده قبايل وو، چې استاد زيار(۱۳۹۴) يې ساکان بولي او دا د زرتشت سره هممهال شته وو.

د زرتشت دين(مزدايزم) مخامنشي باچاهانو منلی و او د مغوی رسمي دين و؛ خو په ۳۳۰ مز چې سکندر پر آريانا بريد وکړ، "د هندي زرتشتيانو د رواياتو له مخې د دولسو زرو غوايانو په څرمنو باندې د سرو زرو په اوبو ليکل شوې اوېستا يې وسوزوله"(شپون، ۱۳۹۷: ۴۱).

د مقدوني سکندر تر مړينې وروسته د مرحوم دوست شينواري(۱۳۶۹: ۱۱۹-۱۲۰) په اند، په لومړي وار په ختيزه آرياني خاوره کې د اشکانيانو (۲۵۰مز- ۲۲۶ ز) پر مهال په مساعد کړې آرامي ليکدود وليکل شوه. د اوېستا ټولولو د ساسانيانو په عصر کې دوام وکړ. تاريخي رواياتونه په دې باب په خاص ډول د تنسر (Tansar) د خدمت يادونه کوي. دا سرى د ساساني کورنۍ د موسس لومړي اردشېر(۲۲۶-۲۴۱) لمسی او د لومړي اردشېر شاپور (۲۴۱-۲۷۲) زوی و. ده مغه کار پيل کړ، چې پلار يې پيل کړی و.

په دې توګه پر لرغوني اوېستا ځيني نورې برخې ورزياتې شوې، څکه چې "ټولوونکو غالبا د زړو متنونو د لټون او د مغو د نقلولو هاند نه کاوه، بلکې زيار يې ايسته، چې د زړو متنو په تقليد نوي متنونه وليکي، څکه دا خبره بې اساسه نه ده، چې وايي ديارلسمه يسنا چې د "فروردين" يا "فره وه شي" په سندرو مشهوره ده، د درېيمې پېړۍ له نيمايي نه دمخه ترتيب شوې نه ده، يعنې د لومړي شاپور په وخت کې ترتيب شوې ده. په دغه ډول دا بېخي څرګنده ده، چې د اوېستا د ټولو متنونو د لرغونوالي په باب خبرې نشي کېدای، بلکې د دغه کتاب د څو برخو د لرغونوالي په باب خبرې کېدای شي."(شينوارى، ۱۳۶۹، ۱۲۲).

د ساسانيانو پر وخت د اوېستا پهلوي تفسير ته زند وويل شو، چې وروسته يې مکرر تفسير وشو او پيتي زنتي يعنې مکرره تشريح يا پازند ورته وويل شو.(حبيبي، ۱۳۸۴، ۱۹۳)

۲-۱- اوېستا چېرته او کله ليکل شوې؟

د اوېستا په باب داسې پوښتنه نشته، چې کله په کوم ځای کې او چا ليکلې ده، بلکې پوښتنه دا ده، چې د اوېستا خورا ډېره لرغونې او لومړۍ برخه کله او چېرته تاليف شوې ده؟

دې پوښتنې ته يو لنډ او اسان ځواب ورکولای شو او مغه دا چې د اوېستا لومړۍ او لرغونې برخه ممغلته تاليف شوې، چېرته چې زرتشت پيدا شوی او له کومه ځايه چې زرتشتي عقيده خپره شوې، يعنې د لرغوني باختر مرکز بلخ.(شينوارى، ۱۳۶۹: ۱۱۳).

د مرحوم شینواري(۱۳۶۹) په اند، اوېستا په بېلابېلو مرحلو کې لیکل شوې او آن ځینې برخې یې تر زرتشت مخکې چې لا آریاني قبایل پووندە وو، هم لیکل شوې، چې وروسته یې بیا هغه برخې جوړې شوې، چې د زرتشت له نامه سره تړاو لري. استاد حبیبي(۱۳۸۴: ۶۷) یې شایي له همدې امله د لیک نېټه (۱۰۰۰ مز) بللې.

که څه هم ځینې څېړونکي په دې اند دي، چې اوېستا د ګڼو خلکو تالیف دی؛ خو په اغلب ګومان یې نسبت زرتشت ته کېږي، چې په شپږمه یا اوومه مخزېږده پېړۍ کې تېر شوی. تقي بهار(۱۳۸۹: ۱۴) یې ژوند تر ۵۸۳ مز پورې ګڼي او کالو هیننګ د ۶۲۸ او ۵۴۱ مز ترمنځ اټکل کړی دی.

د ځینو ایراني پوهانو په باور، اوېستا په اوسني ایران کې لیکل شوې، چې هخامنشیانو او ورپسې ساسانیانو منلې ده؛ خو د ګایګر، مارکنسترین او استاد حبیبي، مرحوم دوست شینواري، استاد زیار او نورو په اند، اوېستا د اوسني افغانستان په حدودو کې په بلخ کې رامنځته شوې، چې وروسته فارس ته رسېدلې. په اوېستا کې د اوسني افغانستان د ډېرو سیمو نومونه راغلي، چې استاد حبیبي په (د پښتو ادبیاتو تاریخ کې) کې رااخیستي. مرحوم دوست شینواري په (افغانستان په اوېستا کې) په نورو دلایل ثابته کړې، چې اوېستا په بلخ کې لیکل شوې ده.

۲-۳- د اوېستا لیکدود
مرحوم دوست شینواری وایي: "... د مقدوني سکندر له فتوحاتو وروسته چې په باختر او هلمند کې د یونانیانو قدرت ټینګ شو. په دغه سیمو کې یوناني الفبا ومنل شوه. له دغه وخته ډېرې سکې او اسناد پاتې دي، چې نه یوازې نومونه، بلکې ډېرې باختري کلمې هم پرې لیکل شوې دي. د ختیزو آریاني(باختر) ژبو ټول غږونه د یوناني الفبا په قالب کې نه ځایېدل او ضمنا هغه ژبه هم د مرینې په حالت کې وه، چې د زرتشتي مذهب ژبه وه او تلفظ یې هېربده؛ نو ځکه د زرتشتي مذهب روحانیونو دا لازمه وګڼله، چې فونیتیک یې باید ولیکل شي او مذهبي متنونه له هېرولو وژغوري.

له دغو متنونو څخه دوی یوازې په مذهبي چارو کې نه، بلکې د خبیثه ارواحو سره په مجادله کې د یوې شې ذریعې په حیث هم کار اخیست، نو په هر صورت د دغو متنونو د فونیتیک ساتنه لازمه ګڼله کېده، نو په کومه الفبا باید دا کار شوی وای؟ په یوناني الفبا دا کار نه شو کېدای، دوی دا فیصله وکړه، چې هلته په ارامي الفبا چې د پارتیاني ژبې لپاره مروجه وه، هغه ولیکي.

دوی دغه الفبا د اوېستا د لیکلو لپاره نوره هم مساعده کړه، البته دغه کار په پرله پسې اوږده وخت کې وشو، ځکه چې د اوېستا د لیکلو لپاره د پارتیاني الفبا سمول او په هغو کې د اوېستا د ژبې د غږونو لپاره د تورو زیاتول ضرور وو، ځکه چې په دغه الفبا کې د دغې ژبې د زیاتو غږونو لپاره توري نه وو، د زیات کوښښ نه وروسته

د اوېستا د لیکلو لپاره یو نسبتا ښه غریز سیستم جوړ شو" (شینواری، ۱۳۶۹: ۱۱۸-۱۱۹).

۲-۳- د اوېستا محتوا

اوېستا د محتوا له پلوه پر روایتونو او منظومو دعاوو او سرودونو وېشلی شو. په روایتونو کې پکې د ځمکې او اسمانونو د پیدایښت کیسه وینو، چې په څومره وخت کې اهورامزدا ځمکې او اسمانونه پیدا کړل.

د زرتشتي مذهب د منځته راتلو په وخت کې ختیزو آریاني قبایلو د زښتو ډېرو ارباب الانواعو لمانځنه کوله، چې د طبیعت د قوت د یوې یا بلې برخې سمبول وو. دلته د جنګیالیو او پادو ساتونکی میترا (Mitra)، د مېږو پالونکی اناهیتا، د کروندو حامي تیشتریا، ستوري لا پخوا لمانځل کېدل او د خلکو په عقایدو کې یې تقدس لاره. زرتشت په خپل مذهب سره په کوښښ پیل وکړ، چې له دغو لرغونو عقیدو سره مبارزه وکړي او د هغو په مقابل کې یې د یوه دوالستیک[2] مذهب بنسټ کېښود، چې په مرکز کې یې سپېڅلي اهورامزدا ځای درلود (شینواری، ۱۳۶۹: ۸۱).

د مرحوم شینواري په فکر د ګاتونو او یاشتونو روحیه مضمون او موخه د پوونده وو، چې د تورا (tura) په نامه یاد شوي او ساکان دي، پرخلاف د کلیوالو او ښاري خلکو ژغور و. د اوېستا روایتونه وایي، چې د دوی د ځایونو پیدا کوونکی مقدس اهورامزدا او د مخالفینود هغو پیدا کوونکی انګرمن (اهریمن) دی. د زرتشت همدا مفکوره د بلخ د واکمن ګشتاسپ په ګټه وه، چې دا دین یې ومانه.

په زرتشتي دین کې اهورامزدا شپږ مرستیالان درلودل، چې هر یوه خپله دنده درلوده: واهومن رمې اداره کولې، اشه واهیشتو اور، خشاتره وریه فلزونه، سپینته ارماتي ځمکه، هورواتات اوبه او امرتات ترکردي اداره کول.

په اوېستا کې اهریمن منفي ځواک یا په اوسنی اصطلاح شیطان دی، چې تل بد کارونه کوي او د اهورامزدا د نېکو کارونو مخه نیسي. دی د دېوانو یو لښکر لري، چې د اهورا مزدا له قوتونو سره جنګېږي، د خلکو ترمنځ شخړې پیدا کوي، ناوړه فکرونه او نور بد اعمال پیدا کوي؛ خو اهرېمن یې مخه نیسي. دا دېوان شپږ مشران لري او دا راته وایي، چې "شپږ" په زرتشتي دین کې لکه د اور او رڼا غوندې تقدس لاره.

له دېوانو سره ځینې ښځمن موجودات چې دروج یا دروغ بلل کېږي، په بدو کارونو کې مرسته کوي او همدا راز په دې خبیثه قوتونو کې پېریان یا د اوېستا له مخې پریکه هم شامل دي، چې پر خلکو جادو کوي او د شکلو ښځو په بڼه څرګندیږي، چې خلک وژني یا یې له اهریمنه لرې کوي. (شینواری، ۱۳۶۹، ۹۰-۹۱)

[2] غېرګوني

۲-۴- اوېستا کومې برخې لري؟
د اوېستا د کتاب راپاتې څلورمه برخه پینځه برخې لري:

۱- یسنا: د لمانځنې مانا لري. د اوېستا مهمه برخه ده، چې ګاتونه پکې راغلي دي او ۷۲ څپرکي یا هات ده. ګاتونه منظوم دي او پینځه برخې لري، چې اهنود، اشتود، سپنتمد، وهوخشتر، وهیشتواشت.

۲- ویسپرد: له یسنا سره ډېر ورته والی لري او ورسره یوځای په دیني مراسمو کې لوستل کېږي.

۳- یشت: د اهورامزدا ستاینه ده، چې د ژبې له پلوه له ګاتونو سره څو پېړۍ توپیر لري.

۴- وندیداد: د قانون په مانا دی. په دې برخه کې د زرتشتیانو مذهبي احکام راغلي دي. له سبک نه یې ښکاري، چې د اشکاني مهال دي.

۵- وړه اوېستا: د لمانځه، ادعیې، سپېڅلو ورځو او نورو مراسمو او وختونو او همدا راز زرتشتي قبا اغوستل او کمربند تړلو په مراسمو کې ویل کېږي. دا برخه د ساساني باچا دویم شاپور په وخت کې له ۳۱۰ نه تر ۳۷۹ پورې لیکل شوې ده.

۳- اوېستایي د کومې کورنۍ ژبه ده؟
تاریخي ژبپوهنې د نړۍ بېلابېلې ژبې په ۱۰۰ کورنیو وېشلې دي، چې په دې کورنیو کې هندو اروپايي ستره کورنۍ ده(زیار، ۱۳۹۴، ۶۲۳)، چې پر دوو لویو څانګو وېشنه مومي، چې یوه د اروپا آریایي ژبې دي او بله د هندوآریاني څانګه ده. په هندو آریاني کې د هند او لرغوني آریانا ژبې راځي.

دغه(آریاني) نومونه(اصطلاح) ... افغاني پوهانو د "ایراني **Iranian**" پرځای رادود کړی او هغه هم د ۱۹۵۷ ز کال له پربکړې راهیسې، چې په کابل کې د پښتو نړیوالې څېړنغونډې د برخوالو له خوا د استاد مورګنستیرن په مشرۍ شوې وه او یوازې یې افغاني لیکوالو او چاړواکو ته د کاروني سپارښت شوی و، ځکه چې ختیځپوهانو یې لږ تر لږه د نولسمې پېړۍ له پای په نومېرلې توګه د شلمې له پیل راهیسې اوښتې بڼه "ایراني" کارولې.

آریاني ژبې له یو بل سره د نږدیکتونو او توپیرونو له مخې په بېلابېلو څانګو کې ځای پرځای کېږي؛ خو څرنګه چې دا ژبې په بېلابېلو سیمو کې ویل کېداې؛ نو په شمال ختیزو، سویل ختیزو، سویل لودیزو او شمال لویدیزو څانګو وېشل کېږي. د دې څانګو په تفکیک کې یوازې جغرافیه نه، بلکې مهال هم لاس لري. مطلب دا چې دا څانګې له لومړۍ مخزېږدې زرېزې نه راواخله تراوسه پورې په درو دورو وېشل کېږي. په دې دورو کې دې ژبو بدلون کړی، مړې شوې، پرځای یې نورې ژبې راټوکېدلې، لهجې په ژبو اوښتې یا سره د مختلفو ژبو ګډودونه یوځای شوې او یوه نوې ژبه یې جوړه کړې یا هم یوه ژبه د څو ژبو له

له پیوستونه رامنځته شوي. کومې ژبې چې مړې شوي، پر ځای یې لونه دي، کنې په ورپسې ژبو کې یې د خپلې ویېزېرمې او رغښت اغېز پرېښی دی.

ایراني پوهان چې اوېستایي ژبه د فارس ژبه بولي، د آریاني ژبو په لویدیځه څانګه کې یې شمېري؛ خو څرنګه چې څېړنو ښودلې، اوېستا د بلخ د شاوخوا ژبه ده؛ نو آریاني ژبو په ختیزه څانګه کې راځي، چې استاد زیار یې سویل ختیزه څانګه کې د باختري له انا، ساکي، پښتو له انا او د سوغدي له انا سره په لرغوني پېر کې راولي. (زیار، ۱۳۹۴، ۵۵۳)

د استاد زیار په (پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې) له مخې له ساکي او اوېستا سره د پښتو تړاو وینو:




۳- د پښتو او اوېستا د تړاو په اړه
دا له ډېر پخوا نه یوه پوښتنه وه، چې پښتانه څوک دي؟ مغه وخت لا د پښتو ژبې پر ځای پښتنو اهمیت لاره، څکه چې سیاسي ملو څلو او بغاوتونو یې د وخت واکمن پرېشانه کړي وو او دا اړتیا وه، چې دا قوم وپېژندل شي.

نو د پخوانو تاریخونو دوو تصور دا و، چې پښتانه اسرایيل دي. په شلمه پېړۍ کې چې د پښتو ژبې په اړه د تاریخي څېړنو بازار تود شو؛ نو دا خبره یو ځل بیا رامنځته شوه، چې پښتانه څوک دي؟

څرنګه چې تاریخي ژبپوهنه د یوې ژبې د مورینې له معلوملو سره د مغې د ویونکو توکم هم راپېژني؛ نو د پښتو له زاویې نه د پښتنو توکم ته وکتل شول. دا ځل چې د پښتنو او پښتو په اړه کېدونکو څېړنو ته د افغانستان د ملي هویت پوښتنه مطرح وه، څکه نو کله په دي څېړنو کې داسې هم شوي، چې واقعیتونه مسخه شوي او همدا کار ایراني څېړونکو هم کړی. زموږ څېړونکو د ځان پر وړاندې یو مخالف لاره، چې مغه فارس و. د فارس د سیاسي نفوذ تر شا تراوسه مهم محرک

تاريخ دی، چې دوی يې د خپلو کتو لپاره پر مسخه کولو هم لنډ تنګ نه دي.

پر دې بنسټ ايرانيانو هڅه پيل کړه، چې د افغانستان د جغرافيې هغه تاريخي وياړونه ورخپل کړي، چې يو وخت د دوی د جغرافيې برخه نه وه. په دې تاريخي وياړونو کې اوېستايي فرهنګ هم و، چې د هخامنشيانو پر مهال ايران ته تللی و؛ خو دوی خپل ګاڼه. د دې فکر پر وړاندې په افغانستان کې هم د پښتو او اوېستا پرتله پيل شوه.

استاد حبيبي(۱۳۸۴: ۱۹۱) که څه هم اوېستا "مادر زبان دري" بولي؛ خو له پښتو سره يې هم مناسبتونه نه هېروي. په خپل "د پښتو ادبياتو تاريخ" کې سنسکريت، اوېستا او پښتو خويندې ژبې بولي، چې په وينا يې سنسکريت د هند په ارتو ورشوګانو کې خپره شوې او اوېستا په باختر کې ځوانۍ ته رسېدلې. پښتو د پښتنو او پکهت3 سره يوځای په خپلو غرو کې تراوسه ژوندۍ پاتې ده.

استا حبيبي د همدې خورولۍ په تناظر کې د سنسکريت، اوېستا او پښتو ترمنځ پر ويېزو اړيکو غږېدلی او د بېلابېلو کلمو شکلي او مانيزو همرنګيو ته يې اشاره کړې ده؛ خو وروستيو څېړنو ثابته کړې، چې د دې درېواړو ژبو ترمنځ د خپلوۍ اړيکه شته؛ خو سره خويندې نه دي، بلکې سنسکريت خو اصلا له پښتو سره په آرياني څانګه کې نه راځي. د استاد زيار(۱۳۹۴) په اند يې غبرګژبيز غږونه يې هم له هندو آريايي ژبو په ساکي پېر کې ورخپل کړي، ځکه چې غبرګژبير غږونه د هندي ژبو ځانګړنه ده او په آرياني څانګه کې بالعموم نشته.

اوېستا ته د ډېر پام د اوښتو او د لور په توګه د دري د رامخته کولو له امله ځينو پوهانو اوېستا د پښتو مور بللې او استدلال يې کړی، چې تر دري ورته پښتو ورنېږدې ده؛ خو ښرنګه چې اوېستا يو مذهبي کتاب و؛ نو دا ښرګنده خبره ده، چې د عربي غونډې يې په ځای ژبو د ويېزېرمې له پلوه اغېز شندلی دی او دا خبره کله زموږ مورخانو او فيلالوجيستانو هېره کړې ده.

د پښتو د ريښې او مورينې په اړه نظريې د شلمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې کرلېچ واخيست. دا استاد مورګنستيرن و، چې د پښتو مخه يې د اوېستا پر ځای ساکي ته کړه او د پښتنو د ساکيوالي الواک(نظريه) يې وړاندې کړه(زيار، ۱۳۹۴، ۲۱۸-۲۱۹).

د دې نظريې پر بنسټ له يوې خوا مارګنسترين او ګڼ نور ختيځپوهان او افغان څېړونکي لکه ارواښاد حسن کاکړ او استاد زيار د لاسن او استاد حبيبي د پکهت او پکتويس نظريه چې نوموړي له ريګويدا او هيرودته رانقل کړې، ردوي او له بلې خوا د پښتو مخ د اوېستا پر ځای ساکي ته اوړي، چې د نوې نظريې له مخې د اوسنۍ پښتو نيا ده.

استاد زيار په "پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې" په دې اړه خبرې کړې دي:

3 هر ګوره استاد زيار په "پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې" د پکتيوس او پکهت خبره ناسمه بولي.

"پښتو (بنسټ (št چې په (xšt ،ršt) پسې ځي، له ۵۰۰ مخزېږدي يوناني xt
سره په خورا ندرت سمون موندلای شي.... همدارنګه (په برن پوهنتون
کې د استاد مورګنستيرن لکچر(۲۰-_۱۱-۱۹۶۷ ) د پښتو پخوانی کېدونې
بڼه< parsawã له يوناني parsuétai ،parsioi ،pãsáva ،parsu(a) ،pãrsa سره
سمون درلودای شي، چې د زړې پارسی په ډېرليکونو کې يې هم څرک لګي.
مورګنستيرن د تاريخي غږپوهنې او ايتمولوجی پر بنسټ له اوېستا
پرشتا- paršta(شا) او سانسکرېټ پرشتا- parštha (شا ، اوچت، لوړتيا سره
د پښتون prstana(h) (غرني وګړي يا اوچت او جوت وګړي) نژدېوالی
کېدونی شيي. همدارنګه دغه پروفيسر د ۱۹۷۵ په ياده شوې ليکنه کې د
يوناني نومور ځمکپوه او وګړپوه بتليموس پر پرسويتي د پخوا غونډې
بيا ټينګار کړی، چې همدا پښتون يا پښتانه ترې راوتلای شي؛ ځکه
بتليموس ليکي، چې دغه وګړي له اراکوزيا او هېلمند څخه د سليمان
غرونو او غزني- کابل خوا ته پراختيا مومي. همدارنګه سکېړو د
مورګنستيرن د اخځ له مخې ليکلي دي: " دا چې پښتانه په اوسنی سيمه
کې له کله راهيسې اوسي، مونږ نه پوهېږو. د پښتو pašto نوم ښايي له
parsauh يا له parsa/u او روستاړي aw– څخه منځته راغلی وي؛ لکه په
parsa کې چې د بېلابېلو منځنيو آرياني ژبو له ژبنيو نومونو سره
نښلول شوی دی(سکېړو، ۳۸۴). (همدا راز د پښتو او پښتون د سم
فونېتيکي او اېتمولوجيکي کېدون په اړه د مورګنستيرن د څرګندونو
پايله په دې ډول لنډون مومي: د پښتو پخوانی بڼه parsawã او د
پښتون دا parswãna ده چې د بتليموس له parsuetai سره اړخ
لګوي(مورګنستيرن، پښتو اتمولوجيکه ويي پانګه ۶۱ مخ او د ۱۹۷۵ کال
ليکنه). استاد په دې لړ کې د پښتون هندي انډول پټهان Pathãn د
شمال لويديز پراکريټ په يوه زړه بڼه کې د پښتون له ډېرګړي ګڼې
"پښتانه" څخه د پور ويي په توګه خوندي شوی بللی دی"(زيار، ۱۳۹۴:
۲۱۶-۲۱۷).

استاد زيار د خپل استاد مورګنستيرن پل اخيستی او د پښتو او ساکي
ترمنځ يې وييزه پرتله کړې ده. د ساکي ډېرې کلمې په نورو ژبو،
ډېرليکونو، سکو او نورو پاتې وې، چې د استاد زيار په فکر يې د
پښتو او ساکي ترمنځ پرتله شونې کوله. استاد د "پښتو او پښتانه د
ژبپوهنې په رڼا کې" په مټ دوه کاره کړي، يوه يې د پښتو د ريښې او
مورينې د موندلو هڅه کړې او بل يې د پښتنو د نسب د معلومولو.

د پښتو او پښتنو د ساکوالي په اړه دا دويمه نظريه اوس تقريبا د
پښتو اړوند تاريخي ژبپوهنې په هر اثر کې وينو،چې ساکان د ټاينبي
په وينا په دويمه مز پېړی کې افغانستان تر خپلې ولکې لاندې راولي
او استاد زيار يې په سهاک، کيس(قيس)، کسي غر آن ضحاک او اوښتې
بڼه په کاس او کاسمير کې ويني، چې د جهلم په يوه ډېرليک کې يې د
"ښشتنه" يوه کلمه راغلې ده.

ضحاک چې له فريدون سره جنګېږي، په شاهنامه کې ديو، اژدها او ظالم
واکمن دی، چې له دواړو وليو يې دوه ماران راوځي، چې هره ورځ بايد
دوو انسانانو ماغزه وخوري. د شاملو او علي حصوري(چې د ضحاک په

نامه کتاب لري) په اند، فردوسي له ضحاک سره انصاف نه دی کړی او د خپل فریدون پر وړاندې یې دېو بللی دی، چې د تورانو له نسله دی.

علي حصوري د شاهنامې د ضحاک اسطوره واقعیت ته راایستلې او هغه تاریخي لاملونه یې په ګوته کړي، چې په ساساني فرهنګ(منځنۍ فارسي) او معاصره شاهنامه کې د ضحاک د منفي کولو تر شا پراته دي او هغه داسې چې فریدون د کاوه آهنګر په مرسته له ضحاکه باچاهي اخلې او بیرته د جمشېد د وخت طبقاتي ټولنه راژوندی کوي.

ضحاک په واقعي تاریخ کې د طبقاتي ټولنې پر ضد راپاڅېدلی او پخوانۍ ګډه ټولنه یې راژوندی کړې. د اوېستا د ګاتونو په برخه کې چې د زرتشت د وخت ده، هم له پوونده وو نه شکایت وینو. پوونده وو د مرحوم دوست شینواري په وینا تل پر کلیوالو بریدونه کول. په زرتشتي مذهب کې ځمکې په همدې علت په دوو برخو وېشل شوې وې، چې یو د اهورامزادا ځمکې وې، چې د زرتشت مذهب یې منلی او بل د اهرېمن ځمکې وې، چې د زرتشت مذهب یې نه و منلی او دا دېوانو ځمکې وې، چې په وندیداد کې دا هغه خلک دي، چې زرتشتیان یې وژل او ځاروي یې ورنه لوټل او پخپله وندیداد د دوی د مخنیوي قانون او دعا وه.

زرتشتي دین ته مزدیسنا وایي، چې د اهورا مزدا د ستاینې مانا لري او پر وړاندې یې دېویسنا د دېوانو د ستاینې مانا لري، چې د زرتشتي دین د مخالفینو لپاره کارېږي.

له بله پلوه زرتشت دوی خپل دین ته وربلل او دوی له دې وېربدل، چې دوی یې دین وربدل نه کړي او شایي دین کرکه هم ترمنځ موجوده وه، چې د ساکانو او د لرغوني بلخ د زرتشتیانو ترمنځ تل جګړې کېدې او شایي همدا علت وي، چې د زرتشت دین د ختیځ پر ځای لویدیځ ته ریښې وځغلولې.

په اوېستا او شاهنامه کې دوی د تورانو په نوم یاد شوي، چې د وروستیو څېړونکو په باور موخه یې همدا ساکان دي. استاد زیار د دوست شینواري څرګندونو ته اشاره کوي: "د دوست د دې څرګندونو پر بنسټ چې غور د هومه ورګه ساکو ټاټوبی و او پښتانه د همدوی له پښته دي، نو اساطیري کړ شوي "ضحاک" د پښتنو له ګډ ورنیکه "سهاک" پرته بل څوک کېدای نشي. لکه پاس چې نغوته ورته وشوه، الفنستون(۹-۱۵۸) هم ضحاک په غور کې د پښتنو ټولواک ښوولی دی؛ په بامیانو کې "شهر ضحاک" هم دا زبادوي چې دغه او نورې (ننۍ) هزاره مېشتې سیمې یې د واکسیمو په اوېجه(قلمرو) کې وې."(زیار، ۱۳۹۴: ۲۸۲).

وروستي تاریخونه هم غور د لرغونیو پښتنو یو مهم مرکز بولي، چې ژبه یې د عزیز احمد پنجشیري(جغرافیای غور) په اند، د پیاوړې پارسي تر سیورې لاندې ورو ورو کمزورې شوې ده او د استاد زیار په اند، له دې ځایه کسي ته تللي، چې کسی د ساک یوه اوښتې بڼه ده.

له مارګنستیرنه نېولې د استاد زیار تر "پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې" او وروستیو څېړنو پورې دا وښودله، چې پښتو د اوېستا

پر ځای ساکي ژبې ته ورنيږدي ده. استاد زيار ساکان چورلټ د پښتنو نيکونه نه ګڼي او نه پښتو چورلټه له ساکي راوتې بولي، بلکي له نظرياتو يې شکاري، چي پښتو په زاړه پېر کي له ساکي اغېزمنه شوې او په دي ډول ساکي د منځنۍ پښتو مور او د اوسنۍ پښتو انا ده، چي دا د مرحوم دوست شينواري د دي نظر "...په هر صورت ټول تاريخي اسناد د پښتو او ساکي د خپلوۍ شاهد دي. زما په خيال معاصره پښتو د تاريخي پکتيانو، د ساکو او باختريانو(د سره کوتل د ژبې) مخلوطه ژوندۍ مجموعه ده"(شينواری، ۱۳۹۳: ۱۲۵)

پايله:

په دي ډول د بل هر قوم غوندي پښتانه او د بلي هري ژبې غوندي پښتو له يوې يوازنۍ مورينۍ نه ده زېږېدلې، بلکي څو ژبو يې په رغښت او ويېزېرمه کي نقش لوبولی دی؛ خو ډېره ونډه پکي د ساکي ده، ځکه نو ورته تر اوېستا ساکي ورنيږدي ده.

که ساکي ورته تر اوېستا ورنيږدي وي، بيا يې نو له اوېستا سره څه اړيکه ده او له اوېستا سره ګڼې د پرتلي ور ده؟

دويمه پوښتنه به لومړۍ ځواب کړو او هغه داسي چي پښتو او اوېستا دواړه د هندو آرياني ځانګي ژبې دي. تاريخي پرتليزه ژبپوهنه د يوې کورنۍ د لړي ژبو ترمنځ لا پرتله شوني ګڼې، پښتو او اوېستا خو بيا هم سره نيږدي او ګاونډ کي پيدا شوې ژبې دي.

د استاد زيار په اند، ساکي د منځنۍ پښتو مور او اوېستا يې ترور ده. که څه هم په لور کي د مور خويونه او کړه وړه تر ترور ډېر وي؛ خو بيا هم ترور ته ورته وي. د ترور په توګه هم د پښتو د رغښت او ويېزېرمي په تاريخي شننه کي راسره اوېستا مرسته کولای شي.

ماخذونه:

۱- زيار، مجاور احمد. ۱۳۹۴. پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼا کي. کابل: دانش خپرندويه ټولنه

۲- شينواری، دوست محمد. ۱۳۹۳. د افغانستان ژبې او توکمونه، دويم چاپ. ننګرهار: ګودر کتاب خپرنځی

۳- شينواری، دوست محمد. ۱۳۶۹. افغانستان په اوېستا کي. کابل: د نشراتو رياست

۴- شپون، وجيهه الله. ۱۳۹۷. له اوستا سره د پښتو فعل د مقولو پرتلنه. کابل: د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

۵- بهار، محمد تقي. ۱۳۸۹. سبک شناسی، چاپ دهم. تهران: مؤسسهٔ انتشارات امير کبير

۶- حبيي، عبدالحی. ۱۳۸۴: د پښتو ادبيات تاريخ، لومړی او دويم ټوک. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه

Pukhtunkhwa Journal